(Pashto)

2022

# د بفلو د ښوونې او روزنې بورډ

## د معلوماتي ټکنالوژۍ لپاره د منلو وړ کارونې پالیسي

## زده کونکی

د بفلو د عامه ښوونځي سیسټم د زده کونکو د اکاډمیک کارونې لپاره کمپیوټرونه او شبکې چمتو کوي. کله چې زده کونکي د بفلو د عامه ښوونځي سیسټم کمپیوټرونه، شبکې، وسیلې او تجیزات کاروي نو له دوی څخه تمه کیږي چې:

**د نورو د محرمیت او د بفلو د عامه ښوونځي سیسټم امنیت درناوی وکړي.**

- یواځې خپل ID (پېژند نوم) او پاسورډ (پټنوم) وکاروئ – د بل کس ID او پاسورډ مه کاروئ.
- خپل پاسورډ د بل چا سره مه شریکوئ.
- د نورو خلکو د پاسورډونو د یادولو هڅه مه کوئ.
- د کمپیوټرونو، شبکو، وسیلو، یا معلوماتو ګډوډولو، په کې د مداخله کولو، یا ویجاړولو هڅه مه کوئ.
- هغو معلوماتو ته لاسرسی، یا د هغوی ذخیره کول، یا لیږدول مه کوئ کوم چې د کرکې ډک، ځورونکي، سپکاوی کونکي، خوابدوونکي، غلط، یا بدنامونکي، په جنسي توګه څرګند، کرغیړن، یا په بل ډول نامناسب وي.
- د نورو خلکو اکاډمیک یا کاري فعالیتونو سره مداخله مه کوئ.

**د سافټ ویر او معلوماتو د کاپي کولو حقونو او جوازونو ته درناوی وکړئ.**

- د کاپي کولو د حق قوانینو یا د جواز ورکولو تړونونو څخه په سرغړونه کې د سافټ ویر کاپي کول، ډاونلوډول، انسټالول، یا توزیع کول مه کوئ.
- د کاپي کولو د حق قوانینو څخه په سرغړونه کې د معلوماتو کاپي کول، شریکول، یا لیږدول مه کوئ. **زمونږ د کمپیوټرونو، شبکو، او وسیلو د بشپړتیا درناوی وکړئ.**
- هغو کمپیوټرونو یا شبکو ته د لاسرسي هڅه مه کوئ چې تاسو یې اجازه نه لرئ.
- د بفلو عامه ښوونځي سیسټم کمپیوټر کې سافټ ویر یا بهرني آلې مه انسټالوئ. یو کمپیوټر، شبکه، یا آله د بفلو عامه ښوونځي سېسټم شبکې سره مه وصلوئ.
- د معلوماتو د ساتنې، څارنې، یا ورته د لاسرسی محدودولو لپاره د ځای په ځای شوي امنیتي سیسټم یا ځانګړتیا څخه ځان مه تیر باسئ (د مثال په توګه، د بفلو عامه ښوونځي سیسټم د ویب پاڼې د منځپانګې فلټرونو څخه ډډه کولو په موخه د انټرنېټ کوم پراکسي سرور مه کاروئ).
- داسې کوم سافټ ویر یا وسیله مه جوړوئ، مه ډاونلوډ او انسټالوئ، یا مه کاروئ چې د یو کمپیوټر یا شبکې د هیک کولو یا زیانمن کولو لپاره کارول کیدی شي.
- د کمپیوټرونو، شبکو، یا وسیلو بدلول، لرې کول، یا زیانمن کول مه کوئ.
- د بفلو عامه ښوونځي سیسټم کار کونکي معلوماتو ته د لاسرسی څخه ساتلو لپاره سافټ ویر یا هارډویر مه کاروئ. **معلوماتي سیسټمونه یواځې مجاز (اجازه لرونکي) مقصدونو لپاره وکاروئ.**
- کمپیوټرونه او شبکې یواځې د اکاډمیک فعالیتونو لپاره وکاروئ – نه دا چې د غیر-اکاډمیک لوبو یا د منع شوو یا غیرقانوني فعالیتونو لپاره.
- د کومې هغې شبکې یا کمپیوټر په کارولو سره چې د بفلو عامه ښوونځي سیسټم له خوا چمتو شوی نه وي د بفلو عامه ښوونځي سیسټم تاسیساتو څخه انټرنېټ ته لاسرسی مه کوئ.
- د کمپیوټر د پروسس کولو وخت او ذخیره، د شبکې ظرفیت، یا د معلوماتي ټکنالوژۍ تجهیزات مه ضایع کوئ. **معلومات د ورکیدو، غلا کیدو، ښکاره (افشا) کیدو، یا بې له اجازې کارونې څخه خوندي وساتئ.**
- هغو معلوماتو ته لاسرسی مه کوئ او مه یې شریکوئ چې تاسو یې په اړه اجازه نه لرئ یا نورو سره په داسې کولو کې مرسته ه کوئ.
- نورو ته داسې معلومات مه ورکوئ چې دوی سره د بفلو عامه ښوونځي سیسټم کمپیوټرونو یا شبکو ته لاسرسی ورکوي.
- د هغو کمپیوټرونو او سامانونو پاملرنه وکړئ چې تاسو ته سپارل شوي دي تر څو د ورکیدو، غلا کیدو، زیانمن کیدو، یا د غیر مجاز کارونې څخه یې وساتئ.
- کومه ورکیدنه، غلا، غیر مجاز افشا کیدنه، یا غیر مجاز لاسرسی یو ښوونکي یا ادارې ته راپور کړئ.

یاداښت: د بفلو عامه ښوونځي سیسټم د ماشومانو د انټرنیټ د ساتنې قانون (CIPA) سره سم خپل کمپیوټرونه او شبکې څاري او نور محافظتونه یې هم په ځای په ځای کړي تر څو معلومات د ذخیره کولو، لیږلو او ښکاره کولو په وخت خوندي وساتي. کله چې زده کونکي د بفلو عامه ښوونځي سیسټم کمپیوټرونه او شبکې کاروي نو دوی باید د محرمیت څخه کومې تمې ونه لرئ.

**سکوپ (د موضوع یا د کار پراختیا یا ساحه) او بندیزونه**

دا پالیسي په بفلو عامه ښوونځي سیسټم کې په ټولو زده کونکو پلې کیږي. د بفلو عامه ښوونځي سیسټم پالیسۍ څخه کومه سرغړونه ممکن د کمپیوټر د امتیازاتو د لاسه ورکولو او/یا په سزا تمامه شي. د ځینې شرایطو لاندې، د بفلو عامه ښوونځي سیټم پالیسۍ څخه سرغړونه کیدی شي مدني او/یا جرمي مسؤلیت (یا تاوان) کې زیاتوالی راولي. د بفلو عامه ښوونځي سیسټم ښایي د افرادو په وړاندې د معلوماتي شتمنیو غیر مجاز لاسرسی، کارولو، یا ویجاړولو له امله مناسب قانوني اجرات تعقیب کړي.

د ښوونې د بورډ 1420 شمېره پالیسۍ لاندې د ښوونځیو سرمامور ته د ورکړل شوي واک پر بنسټ، زه دلته د منلو وړ انټرنیټ کارول اداره کولو لپاره مخکینی طرزالمعل عملي کوم او په دې موضوع کې د ولسوالۍ د طرزالعمل ټولې پخوانۍ نسخې منسوخوم.

ډاکټر ټونجا. ولیمز، د ښوونځیو
سرمامور اګست 2، 2022

د مور يا پلار نوم (مهرباني وکړئ جاپ کړئ)

د مور يا پلار لاسليک

نېټه_ ______________________________

د زده کونکي نوم (مهرباني وکړئ چاپ کړئ)

د زده کونکي لاسليک

هوم روم ______________________________